هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

په جوزجان کی درژیم یوه امنیتی قطعه فتحه شوه

جوزجان ، میډیا :

په پیښور کی دمجاهدینو یو خبر ځای میډیا ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دسنبلی په ۲۸ مه نیټه دجوزجان په ولایت دفیض آباد علاقه داری پرمرکز اوشاوخوا امنیتی پوستو چی دبلخ ولایت اوروسیی سرحد سره نژدی دی برید وکړ ، چی دهغی په نتیجه کی څو پوستی اویوه امنیتی قطعه فتح ، زیات شمیر عسکراوملیشه مړه او ۱۸ تنه صاحب منصبان د ۲۰۰ تنوعسکرو سره ژوندی نیول شوی دی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جګړه کی دکابل رژیم له قواو څخه یوه عراده زغروال ټانك دبی ام ۴۱ یوه دستګاه ، ۶۰۰ میله ډول ډول درنده اوسپکه وسله دمهماتو دوه ډیپوګانی اویوه اندازه لوژستیکی مواد ولجه کړیدی .

هیأتی از مجاهدین عازم نیویارك گردید

پشاور ، جهاد هنداره :

یك هیأت عالیرتبه مجاهدین به رهبری حضرت صبغت الله مجددی ، جهت بحث ومذاکره با مقامات سازمان ملل متحد وزرای خارجه عدهٔ از کشور های جهان عازم نیویارك گردید.

درنظر است هیأت مذکور با وزیر خارجه روسیه «بوریس پنکن» نیز ملاقات نماید ودرمورد حل وفصل سیاسی قضیه افغانستان باوی به مذاکره بپردازند . پیرسیداحمدگیلانی و مولوی محمد نبی محمدی دراعضای این هیأت شامل اند .خبرهای منتشره دراین مورد حاکیست که هیأتی دیگری از مجاهدین که رهبران بعضی از تنظیمهای جهادی نیز شامل ان می باشند ، سفری به مسکو خواهند داشت تابامقامات دولتی روسیه درمورد حل وفصل منازعه افغانستان بحث وگفتگو نمایند.

دوهم کال - درېعه (پرله پسي ۵۵مه)ګڼه ،چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش دمیزان (۱۰مه) د۱۴۱۲ هـ ق دربیع الاول (۲۴مه) د۱۹۹۱ داکتوبر (۲مه)

دشوراي نظار غړي قوماندان مولوي شمس الرحمن په یوه مطبوعاتي کنفرانس کي وویل:

دشمالي ولایتونو دتجزیي داوازو هدف دمجاهدینو بدنامول دي

په ۷ مخ کي

الحاج حقاني پرګردیز دعملیاتو دپیل خبرې کوي :

دکابل حکومت ته یوازې دتسلیمیدو چانس دی اوبس

په دوهم مخ کي

مجاهدین عفو عمومي به افراد رژیم کابل رایکبار دیگرتکرار نمودند

همه منسوبین دولت مزدور ازاین اعلان عفو مستفید شده میتوانند

درصفحه۷

ګردیز داسلام دلښکرو تر اتلوالو بریدونو لاندې:

څوارلس پوستي فتحه اوځلور ټانکونه په غنیمت ونیول شول

په (۶) مخ

په پغمان کي درژیم (۱۱) پوستي فتحه شوي

(۴۱) تنه عسکراوصاحب منصب وژل شوي دي

په اتم مخ کي

تر ۲۰۰۰ ام میلادي کال پوري به ۳۰ملیونه انسانان دایډز په منګولو کي پریوزي

تراوسه پوري ۳۵ زره انسانان دایډز له امله مړه شوي دي

په ۸ مخ کي

اعلام کاهش در زرادخانه اتومي امریکا

ایالات متحده پنجصدراکت ذروي راازصحنه خارج مي کند

درصفحه (۸)

فلسطینیان به دمنځني ختیځ د سولي په کنفرانس کي ګډون کوي

دفلسطین دملي شوراپریکړه

په (۷) مخ کي

کومه جاذبه وه چې زه یې اسلام ته ورکش کړم؟

(۵)مخ

کمسیون متحده علماي صوبه سرحد فیصله کردند که :

دوام جهاد علیه رژیم کابل جایز است

درصفحه ۷

مولوي محمد یونس خالص له جهادهنداري سره په ځانګړي مرکه کي:

دافغانستان دجګړې اُصلي خواوې مجاهد ملت اوروسان دي ، دکابل رژیم دروسانودملیشي حیثیت لري

په راتلونکي ګڼه کي

تقاضاي یك شوراي مذهبي آذربایجان :

اسلام باید درآذربایجان مذهب رسمي گردد

درصفحه (۸)

سرمقاله

دجهاد په سیاسي ډګر کې ډېره ستره نیمګړتیا اوکمزورتیا

دجهاددسیاسی ډګر اوسنی کړکیچنی اونامطلوبی وضعی که له یوی خوا زموږ دمجاهد ملت مؤمن وګړی په یو ځوریدونکی اومأیوسانه حالت کی واقع کړی نو له بلی خوا یی زموږ ددین او وطن دښمنانو ته دداسی پوچواوناوړو پروپاګندو اوزهرجنو تبلیغاتو لاری چاری هم برابری کړی چی ګواکی مجاهدین نه ثابت دریځ لری اونه کومه معقوله طرحه ، اونه پکی دیوسیاسی تشکل اواداری دجوړولو ځواك شته .

دمجاهدینو اسلامی مؤقت حکومت چی له افغانستان څخه دروسی قواؤ دشرمیدلی ماتی په نتیجه کی دتښتیدلو پروخت دیوې رابلل شوی مشورتی شورا له خوا انتخاب اوپر هغه وخت په جلا وطنی کی دمجاهدو افغانانو دیوی نسبی واحدی سیاسی اداری تمثیل وګنډل شو ، خو هغه هم بیا ډیرژر دجهادی قوتونو دخپل منځی بی اتفاقیو ، عدم همکاری اوداعتماد دنشتوالی په نتیجه کی په تدریج سره کمزوری ، بی واکه اوبالاخره داسی بی ځواکه شو ، چی خپل موثریت یی په بشپړه توګه له لاسه ورکړ او اوس ورته هیڅ ډول حقوقی اوقانونی حیثیت نه دی پاتی .

په (۸)مخ کي

په دې ګڼه کې

* دکابل رژیم وروستي وړاندیز توبه که دسیسه ؟
* دمنځني آسیا اسلامي هیوادونه اواسلامي نړۍ مسوولیت
* سفر متوقع مجاهدین به مسکو ، عکس العمل هاوپیامد ها
* دیوې اسلامي ټولني دجوړښت توکي
* زه ولي مسلمان شوم ؟
* موږ په افغانستان کي څه ولیدل ؟
او..........

په ګردیز کې درژیم دقواؤ له خوا داوربند وړاندیز وشو

دوړاندیز په اړه دالحاج مولانا جلال الدین حقاني عکس العمل

په (۸) مخ کې

دافغانستان په باب دروس اوامریکا وروستی موافقه زموږ په هیواد کی دپردیو لاسوهنه ګڼو

الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني
دتاسيس كال : ١٣٦٩ هـ ش

دكابل حكومت ته يوازې دتسليميدو چانس دى اوبس

مركه كوونكي : محمد يعقوب

پوښتنه : محترم مولوى صاحب پر گرديز باندى دمجاهدينو بريخېز عمليات كله پيل او كوم جهاد ى قوتونه په كې گډون لرى ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحيم نحمده ونصلى على رسوله الكريم : امابعد
د ۱۳۷۰ هـ ش كال دسنبلې دمياشتې په ۲۷ مه نيټه چې د چهارشنبه ورځ وه دمجاهدينو له خوا په گرديز باندى مقدماتى عمليات پيل شوى او دپكتيا او پكتيكا ولايتونو ټول مجاهدين په كې گډون لرى ، همداراز مجاهدينو دراډيو ، اخبار او نورو نشراتو په وسيله اعلاميې خپرې كړى ، چې په دغو اعلاميو كې دقوماندانانو دنظامى شورا له خوا دگرديز نظامى او ملكى خلكو څخه غوښتنه شوى ده چې مجاهدينو ته په پناه راوړلو سره خپل ځان ، او لاداو مال دخطر څخه بچ كړى .

پوښتنه : دغه عمليات به ترڅو معلومى نيټې پورى او كه دگرديز دمكملې فتحې پورى دوام وكړى؟

ځواب: دغه عمليات كوم فرمايشى عمليات نه دى ، چې ديوې معلومې نيټې پورى به دوام كوى ، بلكې دا عمليات خو مونږ دگرديز دفتحې په نيت پيل كړى دى ، نور علم الله (ج) سره دى چې تركوم وخت پورى به دوام كوى او مجاهدينو كلكه اراده كړى ده چې جگړې ته به دمكملې فتحې پورى دوام وركوى .

پوښتنه : كه چيرى جگړه اوږده او دوامداره شي ،نو ديخنى موسم په راتگ سره به مجاهدين دمشكلاتو سره مخامخ نه شى ؟

ځواب : ديخنى موسم په راتگ سره به زمونږ په نسبت ددښمن مشكلات خو چنده وى ځكه په دغه موسم كې دښمن دسوخت مواد نه شى پيداكولى او هم به پرى دمجاهدينو له خوا لارى قطع شى په دې ترتيب به دښمن دډيرو كړاوونو سره لاس او گريوان وى او دمجاهدينو لپاره شاوخوا لارى آزادى وى كولى شى خپلې ټولې اړتياوې پوره كړى .

> دغه عمليات كوم فرمايشي عمليات ندي چي ديوي معلومي نيټي پوري به دوام كوي بلكي داعمليات خومونږ دگرديز دفتحي په نيت پيل كړيدي.

پوښتنه : په گرديز كې څومره ولسى خلك اوسيږى او همداراز د كابل حكومت څومره قوتونه په دغه ځاى كې وجود لرى ؟

ځواب : په گرديز كې تقريباً د ۱۵۰۰۰ كورنيو څخه زياتې كورنى اوسيږى او دكابل حكومت دقواوو تعداد ثابت نه دى كله ډيروى او كله كم وى دجگړې په شرايطو كې خپل قوتونه زياتوى او دنورو ځايونو څخه ورته دمرستې په

په ۷ مخ كې

دكابل مزدور رژيم وروستى وړانديز توبه او كه دسيسه ؟

عبدالوكيل

په ۱۳٤۳ هـ ش كال كې دروسانو مزدورانو (خلقيانو او پرچميانو) په ښكاره ډول سياسى فعاليت پيل كړ او خپل مرام يې ظاهراً د«خلق» په لمړى او دوهمه گڼه كې خپور كړ . په دغه مرام كې دټولو ملي او ديموكراتيكو قوتونو څخه دوحدت هيله شوى وه او دملى جبهې په بڼه چې په هغه كې كارگران ، دهقانان ، كسبه كاران ، روشنفكران، روحانيون، ملى پانگه وال او نور قشرونه برخه ولري سياسي قدرت ترلاسه او يوگډاو ائتلافى دولت جوړ كړي،خو كله چې يې په ۱۳۵۷ هـ ش كال كې دروسانو په ملاتړ دكودتا له لارې سياسي قدرت ترلاسه كړنو موږي ټول طبقات او قشرونه يې هومره وځپل څومره يې چې له وس څخه پوره ووتوى ټول سياسي قدرت په خپلو لاسونو كې متمركز كړ او دتره-كي او امين په مشرى سره يې يوه خونړۍ او بگنوونكي ديكتاتوري قائمه كړه.كله چې په ۱۳۵۸ هـ ش كال كې پر افغانستان باندې روسي نظامي تيرى وشو او كارمل يې دافغانستان په مسلمان ولس باندې تحميل كړ ، دولسونو دتيرايستنې پخاطريې د «پلارو طني ملي جبهه » اعلان كړه،خو په حقيقت كې ديوه قدرت مند سياسي او ټولنيز اركان په توگه خولاڅه چې ديوه تشريفاتي اركان حيثيت يې هم نه درلود او دهرډول قدرت او صلاحيت څخه بې برخې وه او ديوه مزدور گوند (دخلق ديموكراتيك گوند) ديكتاتوري دروسانو په مستقيم گډون او دستور قايمه شوه .

دكارمل پرځاى دنجيب رامنځ ته كيدل او دافغانستان څخه دروسانو لاتيښتې (سوق سوم) روسانو او دكابل مزدور رژيم دخپلو شومو اهدافو دترلاسه كولو په منظور نوي سياسي او پراماتيكي مانور ونه پيل كړل ، دپه اصطلاح ملى جبهې او څو گونديزسيستم نارې سورې يې لاوچتې كړې خوترشايې هماغه دروسي مزدورانو (پرچميانو ، خلقيانو او دروس نورو اجنټانو) قدرت لانور هم غښتلى كړ او داسلام ، وطن او ولسونو ضد كړه وړه ترسره كوي .

سره ددې چې روسانو او مزدورانو يې تر نن پورې ونه شول كولاى چې دافغانستان پرمسلمان ولس او نړيوالو باندې هغه څه قبول كړي چې دوى يې تبليغوي او كوي خو دراتلونكي احتمالي ائتلافي دولت په ارتباط دروس او دكابل مزدور رژيم هڅې او تلاشونه او بالخصوص په هغه كې دوطن گوند او شخصاً دنجيب برخه اخيستنې په اړوند الفاظ دتوجو وړدي .

بايد دې ټكي ته متوجه اوسو چې كه روسانو كارمل ته په يوه لوبه كې رول وركړ او نجيب ته په بله كې نو په راتلونكي احتمالي ائتلافي دولت كې بل لوبغاړي ته اړتيالري او په راتلونكي احتمالي ائتلافي دولت كې روسان په خپله خوښه ځكه دنجيب له گډون څخه ډډه كوي چې په روسي مزدورانو كې نجيب ترټولو نورو روس ته په مزدورى كولو افشاء شوى دى نو هر څوك چې په راتلونكي احتمالي ائتلافي دولت كې شخصاً دنجيب موجوديت نه مني او دوطن مزدورگوند او په

په ۲ مخ كې

دمنځنى آسيا اسلامي هيوادونه اوداسلامي نړۍ مسووليت

ژباړه اوترتيب : سيد شهريار

له شوروى اتحاد څخه چې تراوسه پورې كومو جمهوريتونو خپله ازادى اعلان كړيده په هغو كې اذربايجان ، قزاقستان ، اوكرغزستان هم شامل دى ، كوم چې دمنځنى اسيا داسلامى هيوادو څخه شميرل كيږى اودخينو نورو برخو لكه ازبكستان ،تاجكستان اوتركمنستان چې اوس هم دروسى استعمار ترپنجو لاندى دى دبيليدو اودازادى داخيستو انتظار دى .

سره لدې چې دنړى مسلمانانو دخولسيزو څخه ددغو رياستونو دازادى خوبونه ليدل اوپدې تمه وو چې يوه نه يوه ورځ به خامخا دغه دمنځنى اسيا زبيښل شوى پرگنى راپاڅيږى دغلامى زنځيرونه اوزولنى به بند په بند ماتوى اودخپل ازاداسلامى تشخص سره به يو ځل بيا دنړى دنقشى پرمخ راڅرگنديږى خواوس چې دمنځنى اسيا اسلامى هيوادونه يوپه بل پسى دازادى اعلانونه كوى نواسلامى نړى چوپه خوله ناسته ده ، پداسى حال كى چې دغه دپيريو څخه ښكيل شوى اوزبيښل شوى اسلامى رياستونه داسلامى هيوادومرستى اوملگرتياته سترگى په لار دى.

په روان ۱۹۹۱ ميلادى كال چې دريو اسلامى رياستو نو اذربائيجان كرغزستان او قزاقستان پرله پسى دازادى اعلانونه وكړل نو دنړى له ٤۸ اسلامى هيوادوڅخه يوه هم دملگرتيا او ملاتړ لاس وراوږد نكړنه چاپه رسميت وپيژندل او نه ورته چا دمرستى وركولو ډاډ وركړ.بلى خوا ته غربى او اروپايى هيوادونه دى چې دبالټيك درياستونو دگټو ساتلو لپاره لاس او پښې وهى ترڅو دغه عيسوى هيوادونه دخپل ملاتړ لپاره په منځنى اسيا كې په پښو ودروى خو ترڅنگه يې اسلامى هيوادونه دخپلو سترومسئوليتونوڅخه غافل او ناخبره دى .

دنومړو بيلو شويو اسلامى رياستونو او شوروى اتحاد ترمنځ لويه شخړه پدغه هيوادو كې پرتى اتومى بتى او دنورونظامى وسايلو دذخيروپه سرده ځكه دروسيې واكمنان پدى هڅه كې دى او وايى چې دغه ټولى اتومى بتى او نظامى وسايل بايد د مركزى دولت په لاس كې وى . خو په مقابل كې يې ددغو اسلامى رياستونو مشران دوسلو په نه خوشى كولو كلك ولاړدى

په ٦ مخ كې

اذربايجان
پراخوالى: (۳۳.٤۳۰) مربع ميله
ابادى: ٦.۸ مليونه
ولسونه :
اذربايجانيان ۷۸.۱ فيصده
روسان ۸.۹ فيصده
ارمنيايان ۷.۹ فيصده
مركز باكو
پيداوار نخود ، پنبه ، وريجې ، انگور
معدنيات ، تيل انجينرى سامان الات
سميټ اونور عمارتى سامانونه

قزاقستان
پراخوالى ۱.۵ مليونه مربع ميله
ابادى ۱٦.۲ مليونه
ولسونه
تاجك ، ۳٦ فيصده
روسان ٤۰.۸ فيصده
يوكرانيان ٦.۱ فيصده
مركز الماتا ، پيداوار
نخود پنبه حيوانات ، وريږې سكروكانونه
دانجينرى درانه سامان الات اودنساجى فابريكى

سفرمتوقع مجاهدین به مسکو،اختلاف نظرهاوپیامد ها

احمدضیا رحیمزي

غالباً اواخر سال گذشته میلادی بود که زمزمه سفر عدهٔ ازرهبران تنظیم های جهادی به مسکو در پشاور شنیده شد ، که بعداً همچو یك عده مسایل دیگر به مرور زمان بـه سردی گرائیده وتقریباً از اذهان عامه فراموش گردید.

اما بعد از اعلان طرح پنج فقرهٔ سازمان ملل متحد ، واوج گرفتن تلاشهای منابع مختلف جهت حل وفصل سیاسی تنازعه افغانستان از جمله مذاکرات مستقیم بین هیات بلندرتبه مجاهدین وهیأتی ازوزارت خارجه روسیه وهمچنان تدویر کنفرانس ۳ جانبه (مجاهدین ، افغانستان ، حکومت پاکستان وحکومت ایران) یکباردیگر موضوع رفتن هیات رهبری مجاهدین ، به روسیه ، به میدان کشیده شد.

دردور دوم کنفرانس ۳ جانبه منعقده تهران جانبین شامل درمذاکرات فیصل بعمل اوردند تا جهت سریع شدن هرچه بیشتر پروسه حل سیاسی !! هیاتی از مجاهدین به روسیه سفر نمایدوبا مقامات دولتی آن کشور از نزدیك به بحث ومذاکره بپردازند .

وبه این ترتیب گروه های شرکت کننده درکنفرانس تهران برای تعین چنین هیاتی امادگی خویش راگرفتند ، گرچه اعضای این هیات سفر کننده تاحال برملانگشته اند ولی خبرها حاکی ازانست که هیأت مذکور رهبران چند تنظیم مجاهدین مقیم پشاور، نماینده یارهبر (حزب وحدت) ازمجاهدین شعیه مقیم ایران را دربرخواهد داشت .

اینکه سفر چند تن از رهبران به روسیه وگفتگو بامقامات بلند پایه دولتی ان کشور تاچه حد موفق خواهد بود ، وچه نتایجی راببار خواهد اورد رازیست که اینده ازان پرده برخواهد داشت.

ولی انچه مهم است عکس العمل ، انعکاس ها وپیش امد هایست که هم اکنون وقبل از سفر هیأت مذکور به روسیه می تواند مورد بحث قرار گیرد .

قبل ازهمه اختلاف نظروسیع وبی پایان درسطح رهبری تنظیم های جهادی اعم از مجاهدین مقیم پشاور ومجاهدین مقیم ایران ، که بدبختانه درطول چندین سال تلاش های دیپلوماتیك مجاهدین درهمه سطوح هویدا بوده ، درراه سفر این هیات نیز حایل است .

> قبل از همه اختلاف نظر وسیع وبي پایان درسطح رهبري تنظیم هاي جهادي که بدبختانه درطول چندین سال تلاش هاي دیپلوماتیك مجاهدین درهمه سطوح هویدا بوده ، درراه سفر این هیأت نیز حایل است

عدم اشتراك سه تنظیم بزرگ جهادی مقیم پشاور وشورای ائتلاف متشکل ازچهارگروه مجاهدین شعیه ، دردور دوم کنفرانس ۳جانبه منعقده تهران (که فیصله اعزام هیات مجاهدین به روسیه دران صورت گرفته است) می تواند بحیث نکته اختلاف دراین مورد نیز تلقی گردد.

چنانچه مخالفت علنی یکتن ازاین رهبران موثر مجاهدین بااین فیصله که هفته گذشته طی مصاحبه بامطبوعات جهادی اظهارگردیده ، می تواند مثالی خوبی براین مدعا باشد .

ازجانب دیگر این موضوع نیز بجای خود قابل بحث است که هیأت رهبری مجاهدین حین دیدار ازمسکو وملاقات بامقامات دولتی روسیه روی چه مسایلی به مذاکره می پردازند؟ ایا «ازادی افغانستان» راازایشان تقاضا دارند ؟ یاهم می خواهند زمام امور اینده افغانستان را روسها به ایشان تسلیم نمایند !

اگر چنین نیست ، باید هیأت دولتی روسیه نزد مجاهدین بیاید تادرمورد مشکلات ومصایبی که انها درافغانستان باان روبرواند ، با مجاهدین به بحث ومذاکره بپردازند ، واگر موضوع مذاکره بازهم همان ترانه کهنه (دست برداری ازکمك به رژیم نجیب) است که بازهم فکر نکنم لزوم اینرا داشته باشد تا هیأتی به این بزرگی درحالی عازم ان دیار گردد که از یکسو مقامات دولتی روسیه همیشه ودر همه تلاش های بین المللی جهت حل وفصل قضیه افغانستان برموجودیت نجیب وحزب مزدوروطن در نظام اینده افغانستان مصرانه پافشاری می کنند واز جانب دیگر باو بآحت تمام دراولین فرصت چنین مذاکرات موضوع اسرای جنگی خویش رابمیان می کشند.!

> نطاق وزارت خارجه شوروي گفت : مامورین شوروي مي خواهند درمورد سرنوشت بیش از ۳۰۰ عسکرشوروي که درجنگ مفقود الاثر قلمداد شده اند ، مذاکره نمایند

چنانچه روز ۲۹ سنبله رادیو صدای امریکا درپروگرام

بقیه درصفحه۶

دیوی سالمی اسلامي ټولنی دجوړښت توکي

مولوي عبدالمجید

که څوك غواړی چې دانسانیت ، شرافت وقار عزت ابرو ... دمادی اومعنوی ارزښتونو څخه دی برخمن وی باید خپل ځان دشریعت په رڼا کې وپیژنی داخو یو مسلم واقعیت دی چې انسان په حقیقی معنی ځان وپیژنی خدای (ج) هم پیژندلی شی دالله (ج) صحیح پیژندنه هغه وخت متحققه کیږی چې انسان په هر حال هروخت هر عمل کې دباری تعالی (ج) خوښی ولټوی کله چې یو شخص دی پورته صفاتو باندی موصوف ثابت شو دایوکامل انسان اورساخدای (ج) پرست مسلمان او موحد دی ځکه هرقول اوفعل چې دالله (ج) درضا لپاره وی هغه عبادت دی او عبادت هغه شی دی چې دانسان وجود ته راتگ دهمدغه هدف دترسره کولو لپاره رامنځ ته شوی چې هم په دنیا کې مثبت نتایج لری اوهم داخرت لپاره یوه بهترینه ذخیره ده اوس دامهال یو مسلمان په واړه زړه او واضحه الفاظو څرګندولای شی چې داسلام دین ددنیا اواخرت دین دی یعنی داسلام دین ددنیا اواخرت دواړو لپاره په کلی او اکمله توګه کفایت کوونکی دی ، اویوه داسی جاویدانی نقشه ده چې ددنیا اواخرت دواړو ښیګنی پکی انځوردی .

هره انسانی ټولنه په څرنګوالی ، کیفیت ، جوړښت ، تشکل ، تحرك اواجتماعی امورو کې دیوی عقیدی څخه تأثر اخلی اوپه تقریبی ډول په ټولو مواضعو کې دعمل رنګ یې دعقیدی په پلوشوکې نغښتی وی ځکه دایو څرګند حقیقت دی چې دهرچا عمل دهغه دنظریی ، ایډیالوژی ښکاروندی دی.

اګر که داشخص لیونی ، بیهوده ... وی ځکه خامخا دیو فکر اویونظر خاوند دی چې دخپل فکراظهار داعضاوو په واسطه کوی ځینی افعال داسی هم وی چې په غیرارادی توګه دانسان څخه متبارز کیږی اما هغه مستثنی دی په عمومی حالت سره هیڅ عمل (خواه قول وی یا فعل) دنظریی اوعقیدی څخه عاری نه وی ځکه یوه فزیکی مقوله ده چې وایی خارجی عامل ساکن جسم متحرك اومتحرك جسم ساکنوی ، برابره خبره ده چې هغه عامل حسی وی که معنوی او یو ناقابل انکار حقیقت دی چې معنوی عوامل دحسی عواملو اساس اواصل دی یاپه بل عبارت اکثرحسی (مادی مشاهدتی) عوامل دمعنوی عواملو څخه .زیږیدلی وی اوکه زیږنده یې نه وی بیا هم دمعنوی عواملو اثر په حسی عواملو باندی یو لازمی اصل دی .

هره یوه ټولنه چې دهری نظریی اوعقیدی څخه الهام اخلی دیو نوع نظم اودسپلین څخه برخورداره وی .. نودټولو جوامعو څخه په اسلامي جامعه کې دنظم اوسمون اساسات ډیر غښتلی اومسلم دی داسلام ,دین اواسلامي شریعت انسانان دګډوډی تشتت اوځانځانی څخه منع کوی اوداجتماعی هراړخیزو سعادتونو په عرصه یی ورمخ کوی.

نبی کریم (ص) مسلمانان مومنان دتعمیر سره تشبیه کړی څنګه چې دتعمیر اجزاوی یوه بله قوی کوی دارنګ مومنان هم یو بل مظبوطوی رسول الله ص خپلی مبارکی ګوتی دیو لاس په بل لاس کې ننه ایستلی اوپه عینی مشاهدی سره یی مومنانوته درس ورکړ مفهوم الحدیث یعنی لکه څنګه چې دتعمیر خښتی ځینی دځینو نورو لپاره مقوی جوړیږی اودبلهنګ عینی تجسم ته یو قوی صورت وربخښی دغسی به مسلمانان یو دبل قوی کوونکی اومرستندوی وی .

همداراز داحمد نبی (ص) دفرمان سره سم چې هرڅوك دمسلمانانو ټولګی پریږدی داشخص ګنهګار او مسؤل دی انودیوی روغی اجتماع جوړول داسلام دقوانینو څخه یو قانون دی دنړی نور انسانان چې داسلام څخه بی خبره دی هغوی دغسی یوه کوټلی مهذبه ټولنه نشی جوړولی کومه چې داسلام دمبین دین په چوکاټ کې جوړیدلای شی ددی تهکی داثبات لپاره چې مسلمانان دیو بدن حیثیت لری دنبی کریم (ص) ارشاد مبارك دی چې فرمایی نعمان دبشیر ځوی ددی حدیث روایت کوی وایی چې رسول الله ص وفرمایل : وینی به مومنان یو پربل باندی په مهربانی دوستی او عاطفه کی په شان دیو بدن لکله چی دبدن یو اندام مرض باندی مصاب شی ټول بدن ورته په بیخوابی اوتبه رابللی شی (بخاری ومسلم)

مقصد داچې مؤمنان دیو وجود نوم دی چې کله دوجود یو غړی مریضیږی ټول بدن ورسره په درد اخته کیږی او یوشان درد ورسره ګالی اوکه راحت ورته میسر کیږی طبیعی ده چې دفرحت څخه یی ټول بدن برخمنه کیږی پس کټ مټ دغه شان دمسلمانانو ټولنی جوړښت دی چې یو فرد ته غم درد رسیږی یاارامی اوسهولت ټول ورسره یو رنګ شریك وی.

هرمسلمان اوخدای (ج) پرست انسان لپاره ضروری ګڼل کیږی چې دالله (ج) درضا دخپلی ټولنی اودانسانانو دترقی ترفیع اوسعادت اودانسانی حقوقو دتامین اوپه ټولنه کی دبی عدالتی ، ګډوډی ، افراط ، تفریط ... اونورو نیمګړتیاو دلری کولو اودسالمی اوریښتنی ورور ګلوی دفضا په رامنځ ته کولو کې په دوامدار ډول ونډه واخلی اوحتی الوس هڅه اوتلاش وکړی ترڅو یوه ښکلی دغم درد ، مصیبت ، ظلم ... څخه خلاصه اوروغه ټولنه جوړه شی چې ټول افراد یی عملاً اومعناً دیو بدن په شکل یو دبل دغم اوښادی څخه ریښتنی تأثر واخلی .

> څوك چې دذوالجلال محبوب اودوست وي په هغه باندي ډیري ازمویني رادرومي اودنورو خلکو په نسبت درني اوثقیلي هم وي

وماعلینا الاالبلاغ

جهادي ادب

ماخلکو رسوا کړي لوی غل دزماني
نوځکه مي جهان بولي اتل دزماني
ناري دي حيدري پکي له هره لوريه پورته
وطن مي شو خيبر غونډي مورچل دزماني

غمگسار

مرحوم استاد خليلي

هزار حيف که غم ماند وغمگسار نماند
بغير اشك زچشم ستاره بار نماند
بجاي چرخ پراز آفتاب وماه امید
بسينه جز دل مجروح داغدار نماند
دگر چه سود که در راه وي نظر دوزم
چو ديده کور شدو وقت انتظار نماند
بشام بيکسيم آسمان کند شيئون
که غير لاله کسم شمع برمزار نماند
زتاج وتخت چه حاصل که درصف مردان
بروز معرکه شه رفت وشهسوار نماند
شباب رخت سفربست ومرغ طبع رميد
بهار رفت ونهال شگوفه بار نماند

پرتم

شفيقي

چی مخ کړمه هر لوری ته ماتم هم راسره وی
داغونه داغيارو دستم هم راسره وی
دژوند په سترړی واټ کی په سفر اوپه حضر کی
اختر راته محرم شی او محرم هم راسره وی
که وران کلی اوکور دی که دهجر خړداگونه
خوښی می شی میراتی بس یوغم هم راسره وی
داخپل هوډ اوتکل می گرځوی په غرو رغونو
خوتل ته که دگور ځمه پرتم هم راسره وی
واده اوسه رقیبه میدان نه درته پریږدمه
هرڅوکه په اورسوځمه نو زغم هم راسره وی
سفر مودی له پیله په اورونو او ویرونو
مرگی غاړه غړی په هر قدم هم راسره وی
زه ځمه دسکون په لټه گرځمه هرلوری
خو پل په پل درزا دتوپ اویم هم راسره وی

هرکه عشق مصطفي سامان اوست
بحروبر درگوشه دامان اوست
سوز صديق (رض) وعلي (رض) از حق طلب
ذره عشق نبي (ص) از حق طلب
(علامه اقبال)

راآزاد افغانستان کړه!

ملا اسد الله حنيفی

خدایه عمر یی دنوح نبی په شان کړه
په دښمن یی ربه تندر داسمان کړه
څوك چی ستاددین دلاری مجاهد وی
دخالد په څیر یی ربه قهرمان کړه
چی به ستاد پاره سرښندی په مینه
تې زمری دهر دگر اوهر میدان کړه
هغه وینه چی توئیږی ستاد پاره
تې قبوله په خپل دراوخپل دیوان کړه
کومی اوښکی چی بهیږی له چشمانو
ترینه جوړ ربه دنوح نبی توپان کړه
اه میرونه چی دحق دپاره جنگ کړی
تې له تولو آفتونو په آمان کړه
هغه زرونه چی مایل وی ستاولورته
نور یی هم دحق ولوری ته تپان کړه
دنبی خیرالبشر په روی لوی خدایه
زرتر زره راآزاد افغانستان کړه
چی مامون یی له وحشته افغانان شی
نیست نابود دځمکی مخ نه ملحدان کړه
حنیفی چی بیرته لاړشی خپل هیواد ته
په وطن یی قانون پلی دقران کړه

میارابزم برساحل کانجا
فضاي زندگاني نرم خیز است
به دریا غلط وباموجش دراویز
که حیات جاودان اندر ستیز است

علامه اقبال

ننگيالي اوخاطري يې

دهمدغی کنډ کړی قافلی یو لاروی دی ، خو په خپل هوډ اوتکل کی لاهمغسی پوخ اوکلك لکه دسپین غراوهندوکش غر.
یوه پښه یی بیکاره ده ، خو هغه ځان نیمگړی نه احساسوی ، ځان بریمن گڼی ، یو ډول ویاړ یی په سترگو کی ځلیږی ، په خپله نه ماتیدونکی روحیه اواراده ناز کوی ، په خپله عقیده ویاړی اوپه خپل ایمان خوښ دی ، ځان ډیر هوسی احساسوی اوولی به نه وی؟

دعقیدی ، ایمان وطن اوخپل ملت په وړاندی یی په اوږو پروت مسؤلیت ښه سره ترسره کړی ، ډغری یی وهلی ، له مرگونو سره له توپونو سره ، له ټانگونو اوله بمونو سره ، تندی یی جنگولی ، ټټر یی سپر کړی ، اوادایمان له مورچل نه یی ساتنه کړی ده ، بالاخره یی ځان په وینو لمبولی ، وینه یی شهیده شوی ده اوددی مخامخ راته ناست دی ، دټندی په گونځو کی یی تیر یادونه ، جنگونه او غورځنگونه نقش دی ، خپل ځان راپیژنی :
نوم می شمس الحق ، دبیگ نظر زوی دبغلان ولایت دپلخمری ولسوالی ددهنه غوری علاقه داری اوسیدونکی یم له ۱۳٦۰هـ ش کال څخه راپه دی خوا دجهاد په ویاړمنو مورچلونو کی میشت وم ، په ۱۳٦۷ کال کی په الحاج حقانی صاحب پوری اړوند دسلمان فارسی (رض) په غونډ کی په جهاد بوخت شوم اود۱۳٦۸هـ ش کال دجلال اباد په خونړی جگړه کی هوایی میدان ته نږدی ددښمن سره په مخامخ جگړه کی دگرینوف په مرمی ټپی اوبوه پښه می فلج شوه.

دقران کريم په باب څو په زړه پوری ټکی

۱: قرآنکریم ټول ۳۰ پاری دی .
۲: قرآنکریم ټول ۷ منزلونه دی .
۳: په قرآن کریم کی ۱۱٤ سورتونه دی .
٤:دقرآن کریم دآیتونو شمیر ٦٦٦٦ دی .
٥: دقرآنکریم درکوعاتو شمیر ٥٤٠ دی.
٦: باب القران دفاتحی سوره ده.
۷: دتوبه په سورة کی بسم الله نه ویل کیږی .
۸: په قرآنکریم کی دلمانځه تاکید « ۷۰۰» ځله راغلی.
۹:دقرآنکریم دلیکلو کارحضرت ابوبکر صدیق (رض) پیل کړ.
۱۰:دقرآنکریم لومړی حافظ اوجامع القران حضرت عثمان (رض) دی .
۱۱: په قرآنکریم کی دحضرت موسی (ع) نوم ترټولو پیغمبرانو زیات راغلی .
۱۲: دقرآنکریم ترټولو اوږدسورة «البقرة ۲۸٦ ایتونه دی.
۱۳:دقرآن کریم ترټولو لنډ سورة «العصر» دری ایتونه دی.
۱٤:دقرآن کریم ترټولو غوره کیسه «احسن القصص » دحضرت یوسف (ع) کیسه ده .
۱٥:سورة یس ته دقران زړه ویل کیږی .

دری واړه

۱: ددری واړو احترام وکړی: ، والدینو ، استاد اومشر.
۲: دری واړو ته پاملرنه وکړی ؛ نظافت ، گاونډی ، بیمار. ۳: دری واړه قیمتی وگڼئ: ایمان ، رښتیا ، ښیگڼه.
٤: له دری واړوځان وساتئ ؛ آه ، فریاد ، ښیرا .
٥: دری واړه تل یادولری؛ نیکی ، مرگ ، نصیحت .
٦: دری واړه بیانه راگرځی ؛ غیشی لیندی ته ، وتلی خبره بیرته خولی ته ، وتلی نفس بدن ته .
۷: دری واړه لاسته راوړئ : علم ، اخلاق ، شرافت .
۸: دری واړه غوره کړی: زړه سوی، سپینه خبره ، تواضع .
۹: دری واړه ډیر کړئ : ښه دوستان ، ښه کړه وړه ، ښه کتاب .
۱۰: له دری واړو نه کار واخلئ: عقل ، زبار ،محبت .

زه ولي مسلمان شوم؟ ...

خدای (ج) عقیده دانسان دفطرت سره موافقه هم ده اودروح دتسکین اوارامتیا وسیله هم .
خدای (ج) یودی ، څوك شریك نه لری ،نه دی له چا زیږیدلی اونه له هغه (ج) نه څوك زیږیدلی ، اوپه ټولو کایناتوکی څوك دهغه سیال نشته ، خدای (ج) دقوت ، حکمت اوحسن منبع ده ، ډیر مهربان اوزیات سخی دی .
انسان دخدای (ج) مخلوق اوبنده دی ، دادنیا دامتحان یوډگر دی ، ددوهمی دنیا «اخرت»لپاره دتوښی او تیاری نیولو ځای دی ، انسان دښیگڼو اوبدیو ذمه وارپخپله دی ، هیڅوك هم دبل چاپه گناه نه نیول کیږی اونه چاته دبل دنیکی اجر ورکول کیږی .
اسلام له رنگ ، نسل علاقی اوژبی څخه ډیر لوړ دی اودایوازینی مذهب دی چی دامیراو فقیر ، تور اوسپین اولوړ اوټیټ ترمنځ توپیر نه پیژنی ، یو مسلمان دبل مسلمان ورور دی که ددنیاد هرگوټ وی اوددی ورورۍ اوبرابری یوه ژوندی مظاهره دحج په وخت کی وی چی ټولو یوډول احرام تړلی وی .
اسلام دانسان مادی اومعنوی دواړو ضرورتونو او اړتیاوو په باب تعلیم ورکوی ،اسلام انسان ته دداسی ژوندانه غوره کولو هدایت کوی چی روح اوجسم دواړه پکی وغوړیږی اوپرمختگ پکی وکړی اوپه اسلام کی شراب ، قمار ، اونور رذایل سخت منعه شوی اوهمدغه رذایل دی چی دبشری ټولنی جړی وباسی .

په تیر پسې :

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطري :

دمسلم ژباړه

ځینو ځایو کی به یی دومره بمبارد وکړ چی دباروتو په لوگیو کی به لاره نه ښکاریده ، بیاهم په څلورو ځایونو کی مجاهدینو پر روسی کاروان حمله وکړه څو هلیکوپترو به پری بمباری وکړه اودهغوی دپرمختگ په لاره کی خنډ شول ، دچرکوفسکی څو ملگری په دی سفر کی دمجاهدینو دحملو ښکارشول خودهغه دوسلو ډك موتر روغ ر مټ کابل ته راورسید .

کابل ته تر راسیدو لوه ورځی وروسته (الیگزبندمبرکوفسکی) دبگرام دهوایی ډگر په ساتونکو ډلوکی شامل کړای شو هغه ته دیوی داشکی چلولو مسولیت ورکړشو ، ددی ډلی قوماندان جرکوفسکی خوښ نه شو ، هغه به په ډیرو وړو خبرو په عضه کیدو اوپوځیان به یی داجازی پرته داوبو څکلو یامعذرت ته لاړل وهل به یی اوجزابه یی ورکوله .

په افغانستان کی دخپل ژوند دنه هیریدونکی شپو په باب (جرکوفسکی) وایی په دی شپه چی دبگرام پرهوایی ډگر څومره دروند جنگ وشو

داسی سخت جنگ ماهیڅکله نه و لیدلی په دی ورځ بگرام کی دنوی کال دلومړی ورځي جشن لمانځل کیده روسی پوځیانو ښه شراب څکلی ؤ ، ټول یی بی هوشه وودی هم نشی مست کړی و مجاهدینو پر هوایی ډگر حمله وکړه دساتونکی ډلی پوځیان وارخطا شول دشپی په تورتم کی دوارخطایی اوگډوډی مخه (جرکوفسکی) داسی بیانوی :دشپی په تورتم کی دډزو غږزماسترگی خلاصی کړی په لړزیدلو پخو پورته شوم اودخپلی ماشینگنی پرلور

لاړم گامونه راسره ملگرتیانه کوله په ډیروستونزوداشکی ته ورسیدم اودځنډ پرته می ډزی پیل کړی. تردی وخته زما نور ملگرو دډارله وجی یوی بلی خوا منډی وهلی دقوماندان لخوا موږ ته دحملی دځواب ورکولو امر نه ؤ شوی په دی دوران کی دمجاهدینو دراکټ دډزولـه امله یو هلیکوپتراورواخیستاو ورسره دهلیکوپتر په دننه کی دبمونو چاودنی پیل شوی دادقیامت یوه مخه وه دیخنی په موسم کی سخته ویره پیدا شوه اوپه ټول هوایی ډگر کی روښنایی ځلیدی ، دالوتکو څخه به راکټ اوبمونه په نږدو موټرو اوالوتکو لگیدل ، اوپر ما ویره غالبه شوه ، دیوه موټرشاته پټ شوم ټوله شپه چاودنی وشو خوماته پته ونلگیده چی بهر څه وشول ، قوماندان څه وخت دحملی امر ورکړ ، اوپوځیانو څه ډول دمجاهدیومقابله وکړه ماته هیڅ پته نه وه ، یوه یوه لحظه

پرما دغرونو څخه ډیره درنده وه دویری اووارخطایی په عالم کی پرماخوب راغی راتلونکی ورځی په سهار زه دموټر له شاراووتم اوچی بهر ووتم اودحالاتو معلومات می وکړ راته معلومه شوه چی دمجاهدینو دحملی له وجی دبگرام په هوایی ډگر کی تباهی خپره شوی ، ۲۷ میك جیټ الوتکی ، ۲٦ گن شپ هلیکوپتر ، ٤٠ ټانکونه ، ۱٤ دوسلو ډك موټراو دوانیو زیاته برخه له منځه لاړه وه د(۱۵۰) تنو څخه زیات پوځیان وژل شوی و شپه

دویرونکی توفان په ډول پر موږ تیره شوه ، زه دقوماندان ځای ته ورغلم هغه دزیاتو تاوانونو له وجی سخت خپه و چی زه یی ولیدم داور په شان تگ سور وگرځید اوپه چغه یی زما څخه وپوښتل «شپی ته چیرته مړشوی وی ؟ تادامرپرته ډزی ولی وکړی ؟» مادبرآت لپاره

> دشپي په تورتم کي دډزو غږ زما سترگي خلاصي کړي په لړزیدلو پښو پورته شوم اودخپلي ماشینگني پرلور لاړم گامونو راسره ملگرتیا نه کوله په ډیرو ستونزو دهشکي ته ورسیدم

ښه دلایل ووېل خو یویی هم وانورید ، په سریی ښه ووهلم اوترهغی وروسته یی بندی کړم تراووشپو وروسته خوشی شوم ترهغی وروسته یی له بگرام څخه (چاریکارو) ته منتقل کړم .

دچاریکارو په کوم مرکز کی چی (جرکوفسکی) ته دننده وروسپارل شوه هغه دغره په سرو له دی ځایه به روسی پوځ پر مجاهدینو حملی کولی مجاهدینو به هم کله ناکله چریکی حملی کولی خو مرکز په داسی ځای کی و چی مجاهدینو روسانو ته زیات تاوان نه شو رسولی په دی مرکز کی دکارمل دپوځیانو په مرسته جبری پوځیان هم شاملیدل ، جرکوفسکی وایی : جبراً عسکری ته رالیږل شو افغانی پوځیانو به دروسانو ترڅارنی لاندی روزل کیدل اوبیابه یی دروسانو ترمشری دمجاهدینو پرخلاف عملیاتو کی برخه اخیسته خودکارمل اوروسانو پرخلاف دهغوی کرکه اودمجاهدینو پر ضد دجنگیدو څخه به دوی ټل انکارکاوه چیرته به چی دتیښتی موقع په لاس ورغله هغه به یی له لاسه نه ورکوله اوځینی دکم عمر ځوانان به

یی چی راوستل شپه او ورځ به ژړیدل ، عسکری ته دجبری راوستلو دیوی صحنی په باب جرکوفسکی ووېل :

موږ دشپی یو کلی محاصره کړاو راته امر وشوچی ټول نارینه جبراً پوځ کی شامل کړی ، موږ همداسی وکړل ، له کوم کور څخه به چی موږ نارینه ونیول او راوتو به ، دهغه له بامه به پر موږ ښځو

گرمی اوبه او تیږی اورولی ، اوموږ به یی په ډزو ځواب ورکاوه، اوکومو خلکو به چی له موږسره له راتگ نه انکار وکړ هغوی به مودکلاشینکوف په زور روانول ، اوکوم خلك به چی کورونو کی پټ ؤ دروازی به یی بندی کړی وی پرهغوی به مولاسی بمونه ورغورځول ، یوتن ددفاع په ښه هوایی ډزی وکړی هغه موږ په کلاشینکوف وواهه اوله منځه مو یوړ ، په دی عملیاتو کی دروسی اوکارملی پوځیانو شمیر دڅلور زرو څخه زیات ؤ ، خو ددی سره سره دمجاهدینو یوی ډلی پرموږ حمله وکړه ۱۲ افغانی او ٥ روسی پوځیان یی ووژل اوخپلومرکزونو خواته بریالی ستانه شول ، روسی قوماندان په جبری توگه د ٦٠ تنو ترنیولو وروسته په کلی کی دعامی وژنی امر ورکړی ، هغه دخپلو پوځیانو پروژنه سخت غوسه شو ، روسانو دانتقام سخته لوبه وکړه ، چاچی سرجگولی شو ژوندی یی پرینښود ، دچوراوچپاول بازار تود شو ، اودکلی هرشی یی چور کړل دنارینو له جیبونو یی پیسی راواخیستی .

دسعادت په لار

زه ولي مسلمان شوم ؟

ژباړه : ابوهارون

ډاکتر آر ، ایل ، میلما ، هالینډی :

ډاکتر آر ، ایل میلما په انسان پیژندنه کی اودډیرو تصنیفونو اوتحقیقی اثارو په درلودلو کی په اروپا کی یو منلی اودځانگړی عزت اوشهرت خاوند دی ، هغه په امستردام کی داستوایی سیمی داثارو په موزیم کی داسلامی څانگی مشراونگران دی هغه ډیر کتابونه لیکلی چی یو یی دپاکستان په باب هم دی. دی وایی :

ماپه اسلام کی څه ښیگڼه ولیدله ؟ هغه کومه جاذبه وه چی زه یی دی عقیدی ته ورکش کړم؟ داهغه دوی پوښتنی دی چی زه ځواب ورته وایم ما په ۱۹۱۹ کال کی دلندن په پوهنتون کی دختیځو ژبو په باب زده کړه پیل کړه ، اودعربی علوموداستاد سناوك هرگرونج له لیکچرونونه می په پرله پسی اومنظم ډول استفاده کوله په عربی کی دومره ماهرشوم چی دقران کریم یو تفسیر «بیضاوی» اودامام غزالی یو کتاب می وژباړلی شول .

لکه چی دوخت تعامل ؤ ماهغه وخت داسلام دتاریخ اواسلامی ادارو په باب معلومات له هماغو کتابونو څخه تر لاسه کړل چی په اروپا کی په دی هکله لیکل شوی وو، په ۱۹۲۱ کال کی مصر ته ولاړم اویوه میاشت هلته واوسیدم ، دغه وخت ما دالازهرجامعی په باب پوره مطالعه وکړه ، ماله عربی پرته په سانسگریت ، مالایی اوجاوایی ژبو هم یو څه عبور حاصل کړ ځکه خو دهالینډ پخوانیو مستعمرو اوسنی اندونیزیاته ولاړم ، هلته می په جاگارتا کی دجاوایی ژبی اوهندی کلتور په باب مطالعه پیل کړه ، دراتلونکو پنځلسو کالو لپاره زه په دی کار بوخت وم اوله اسلام اوعربی ژبی سره می اړیکی ډیری سستی شوی ، په دوهمه نړیواله جگړه کی اندونیزیا جاپانیانولاندی کړه زه هم جنگی بندی شوم ، کله چی ازاد شوم په ۱۹٤٦ کال کی بیرته هالینډ ته ستون شوم او هلته می په یوه انستیتوت کی په تدریس پیل وکړ ، دلته ماته په جاوایی ژبه پر اسلام باندی دیوه کتاب لیکلو امر وشو اویوځل بیامی له اسلام سره رابطه ټینگه شوه ، په اروپا کی چی داسلام په باب څومره کتابونه لیکل شوی وو نږدی ټول یی ماولوستل ، په دی ترڅ کی ماته داسلام په نوم منځ ته راغلی هیواد «پاکستان» په باب دمطالعی ضرورت پیښ شو ، ما دسفر موزی په پښو کړی اوپه ۱۹٥٤ م کال کی دپاکستان لاهور ښارته راغلم ، تراوسه پوری ما اسلام داروپایی مصنفینو له اثارو څخه پیژاند ، خو په لاهور کی ما داسلام له یوه نوی اړخ سره پیژندگلوی حاصله کړه ، زما پر ذهن اسلام داسی اغیزه وکړه چی له مسلمانودوستانونه می هیله وکړه چی دجمعی دلمانځه په مراسمو کی یی شریك شم ، هغوی په ډیره خوښی زما هیله ومنله ، همدلته زه داسلام له لوړو او سوچه معیارونو سره اشنا شوم او زما په ژوند کی یو سپیځلی انقلاب راغی .

ماله هغی ورځی نه ځان مسلمان وشمیره چی کله دجمعی په ورځ ماته خلکو ته دخبرو کولو فرصت راکړل شو ، اوله خبرو وروسته می له هغوگنو دوستانو سره ستری مشی اوزره خواله وکړه چی ما پیژندل نه خودوروروگلوی یو عجیب حس او کیفیت یی پرما اغیزه وکړه ، هغوی له ماسره په داسی مینه برخورد وکړ چی دسکه ورونو تر منځ هم کم لیده شی ، له دی نه وروسته زه خپل یوه دوست نږدی یوه وړوکی جوماته ته بوتلم ، هلته یو جناب په روانه انگلیسی ژبه خطبه ویله ، هغه دپنجاب په پوهنتون کی دیوی مهمی کرسۍ خاوند ؤ ، هغه لمونځ کوونکو ته ووېل چی زه ځکه په انگلیسی خطبه وایم چی دلته له یوه لری هیواد نه زموږ یو دوست راغلی هواړم هغه داسلام په باب ډیر څه واوری ، کله چی خطبه اولمونځ خلاص شول ، نو خطیب ماته ووېل چی دغه خلك ستاله خولی څه اوریدل غواړی ، زه ولاړم دمیکروفون مخی ته ودریدم ماپه انگریزی خبری کولی اوخطیب صاحب به په اردو لمونځ کونکوته اړولی ، ما ورته ووېل چی زه له یوه داسی هیوادنه راغلی یم چی هلته کم شمیر مسلمانان دی زه دهغوی اوخپل سلامونه تاسی ته وړاندی کوم ، اوتاسی ته دخپل ازاد هیواد مبارکی وایم ، که خدای (ج) کول ستاسی راتلونکی ډیره روښانه ده اوپاکستان به یو ستر اسلامی هیواد وی ، زه چی بیرته خپل هیواد ته ولاړ شم هلته به خلکو ته ووایم چی له ماسره په پاکستان کی په ډیر عزت برخورد وشو.

ددی خبرو له اردو ترجمی اوریدو وروسته په خلکو کی یوه عجیبه هلهله راپیداشوه ، په سترگو کی یی دمینی اوخلوص ډیوی وځلیدی ، دهغوی له سترگو نه دوروروگلوی اویووالی وړانگی راوتلی چی زما له زړه او ذهن نه وړاندی تیریدی اوروح ته می ننوتلی ، ماپه خپلو سترگو ولیدل چی داسلام دوروری اړیکی ترهری رشتی اوخپلوی ډیری مضبوطی اوځواکمنی دی .ربښتیا خبره داده چی په هغه ورځ زما خوښی ډیره سیواشوی وه دپاکستان مسلمانانو ماته په ډاگه کړه چی اسلام یوازی دقوانینو یوه مجموعه نه ده بلکی دمینی او محبت کاروان ته زمزم هم دی چی تری اروای خړوبوی اوپه ورانوزړونو کی دپسرلی گلان غوړوی ، اسلام دسپیڅلو اخلاقو دگلو یوه ښکلی گیډۍ ده ، چی تر هر چا وړاندی مسلمان وریاندی ویاړل شوی دی ، دلته ایمان اوعلم زما زړه او ذهن روښانه کړل اوما سمدستی دخپل اسلام اعلان وکړ.

زه داسلام دغو بنیادونو ډیرتراغیزلاندې راوستلم چی دوی په یوه واحد خدای (ج) ایمان لری ، هغه خدای (ج) چی یو دی ، په یوه

په (٤)مخ کې

دمنځنی آسیا اسلامي هیوادونه اوداسلامي نړۍ ...

او وایی چې موږ دخپل حق څخه نه تیریږو. دهمدغو کوښښونو او هڅو په اړوند غربیان دروسی د دریځ ملګرتیاکوی او وایی چې داتومی وسلو خپرید ل به نړی دیوی لویی حادثی سره مخامخ کړی . دغربیانو دکوښښونو په لړکي دفرانسی ددفاع وزیر (پتری چوکس) روسی ته ناڅاپی سفروکړاو دشوروی اتحاد مقاماتو سره یې پدی اړوند خبری اتری وکړی او داسی

> ازبکستان
> پراخوالی ۱۷۲ ، ۷٤۱
> مربع میله
> ابادی ۱۹ ملیونه
> ولسونه
> ازبك په سلو کې ۶۹.۸
> روسان په سلو کې
> ۱۰.۸
> مرکز تاشقند
> پیداوار
> پنبه وریجی ، تیل
> سیمټ ، میوه جات ،
> مس ، زراعتی الات
> اوډېرو سکرو کانونه

بریښنی چې دواړه خواوی سره یوه ګډ توافق ته رسیدلی دی ځکه دخپل سفر په پای کې (پتری چوکس) یوه بیانیه ورکړه چې دنورو خبرو په ترځ کې یې داهم ویلی وُ :

دشوروی اتحاد مقاماتو ماته داډ راکړ چې په اتومی وسلو باندی به دمرکزی دولت کنترول وی اوپری به نږدو چې په منځنی آسیاکې اتومی وسلی خپری شی .دروسی جمهور رئیس ګورباچف ، دروسی فیدراسیون جمهور رئیس مشر بوریس یلتسین او دروسی ددفاع وزیر (شافو شینکوف) هم په همدی عقیده دی چې باید تول اتو می وسایل د مرکزی دولت پوې مربوط وی او دایې هم په ډاګه کړیده چې هیچاته به دااجازه ورنکړای شی چې اتومی وسایل پخپل لاس کې واخلی.

که څه هم دروسی مرکزی حکومت داتومی وسلو پخپل لاس کې دپاتی کیدو هڅه کوی خو دقزاقستان جمهور رئیس یې په مقابل کې په ډاګه ویلی دی چې زما په ځمکه جوړی اتومی بمی او پرتی زهرجنی وسلی به زما په لاس کې وی زه به په هیڅ قیمت هم دی ته غاړه کینږدم چې اتومی وسایل مرکزی

> ترکمنستان
> پراخوالی ۱۸۶،٤۰۰
> مربع میله
> ابادی ۳.٤ ملیونه
> ولسونه
> ترُك ۶۸.۶ فیصده
> روسان ۱۲.۶ فیصده
> ازبك ۸.۵ فیصده
> پیداوار
> پنبه وړی ، جوار ، میوه
> جات ترکاری ، معدنیات ،
> انجینری سامان الات
> اوپرستینونه

دولت خپلی خاوری ته انتقال کړی .

دقزاقستان جمهور رئیس نور سلطان نذربایوف د A.B.C دتلویزیون سره په یوه مرکه کې داهم ویلی دی چې موږدخپلو اتومی وسلو دساتلو پوره حق لرو نه مسکو اونه بل کوم جمهوریت که څه هم هغه هرڅومره لوی او قوی وی زموږ څخه زموږدغه حق نه غصبولای داخبره باید په یاد ولرو چې داوخت دروسی دخطرناکو اتومی وسلو (۱۵) نه تر ۲۰ فیصده پوری دوسلو دیپوګان اوذخیری چې یکی په زیاته پیمانه ۱۸- SS توغندی هم شامل دی دقزاقستان په خاوره اوددی څخه په فیصدی حساب زیاتی ذخیری یې صرف په یوکراین اوروسی فیدراسیون کې پرتی دی قزاقستان په پراختیا کې دروسی فیدراسیون پسی په دوهم نمبر دی اوزیات شمیر اوسیدونکی یې مسلمانان دی

ځنی نړیوال روشنفکران اومبصرین وایی چې شوروی اتحاد به دوسلو په راټولولو کې له سخت مشکل سره

> کرغزستان
> پراخوالی ۷۶ ، ٤۶۰
> مربع میله
> ابادی ٤.۱ ملیونه
> ولسونه
> کرغیزیان ٤۷.۹ فیصده
> روسان ۲۵،۹ فیصده
> مرکز فرونزی
> پیداوار
> حیوانات ، بوره ، پنبه
> وړی نساجی فابریکی
> اوتیل پولی یی له چین
> سره تړلی شوی ده

مخامخ شی ځکه په قزاقستان کې هغه توغندی هم پراته دی چې دیوه براعظم څخه بل براعظم ته توغول کیدای شی نوپداسی حال کې به خامخا ددغو وسلو راټولول اونه خپریدل مشکل او ستونزور کار وی ، دغو اوازو اومسایلو غربی نړی نوره هم له تشویش سره مخامخ کړی ده ځکه ددوی په فکر په یوه اسلامي هیواد قزاقستان کې اتومی وسلی خامخا دنړی اومنځنی آسیا لپاره خطر ګرځی نو له دی امله غربیان هڅه کوی چې قزاقستان پدی مجبور کړی چې دخپل دغی عزم اوهود څخه واوړی اوروسی ته اجازه ورکړی چې اتومی بمی پخپل کنترول کې واخلی .

پدی حساس وخت کې اسلامي هیوادونه هم باید له خپلو ذمه واریو څخه ځان خبر کړی اوښه په ډاګه دمنځنی آسیا داسلامي هیوادو سره مرستی او ملاتړ ته ودریږی اوهلی ځلی وکړی چې دغه اتومی وسلی دمسلمانانو په خاوره کې پاتی شی ځکه په هر ځای کې دمسلمانانو قوت داسلام او مسلمانانو قوت دی اوپدغه کاربه روسی سره دتړل شویو تړونو اسلامي پرګنو حوصلی هم راپورته شی اودروسی استعمار دغلامی جغ به توته توته کړی.

> تاجکستان
> پراخوالی ۵۵.۲٤۰ مربع
> میله
> ابادی ٤.۸ ملیونه
> ولسونه
> تاجك په سلو کې ۵۸.۸
> ازبك په سلو کې ۲۲.۹
> روسان اویوکرنیان په سلو
> کې ۱۰.٤
> مرکز دوشنبه
> پیداوار
> حیوانات میوه جات ،
> ډیرو سکرو کانونه
> انجینری سامان
> الات اونساجی
> فابریکی پولی یی له
> افغانستان سره تړلی شوی
> دی.

ګردیز داسلام...

دپکتیا ولایت دمرکز ګردیز له جهادی سنګرونو څخه دجهاد هنداری خبریال خبرراکوی چې مجاهدینو ددوشنبی په ورځ دمیزان دمیاشتی په اتمه نیټه دسهار په پنځو بجو دګردیز پرختیځه خوا عمومی حمله پیل کړه چې دهغی په نتیجه کی یی دمیلن اوبلدی په سیمو کی دمزدور رژیم دقواو ۱٤ پوستی فتحه شوی.

خبرزیاتوی چی په دغو بریالیو عملیاتو کی ددین او وطن دښمنانو ته دسراومال درانه تاوانونه اوښتی مجاهدینو دځلوروټانکونو په شمول زیاتی سپکی اودرنی وسلی په غنمیت نیولی دی .

خبر وایی چی دګردیز دښار په مرکز اوشاوخواامنیتی پوستو اوسترو پوځی مرکزونو دمجاهدینو دعملیاتو لړی روانه ده .

سفرمتوقع مجاهدین به مسکو...

شبانه دری خویش ضمن تبصره برسفر هیات مجاهدین به مسکو از قول یك نطاق وزارت خارجه روسیه اظهار داشت :

«اتحاد شوروی رهبران مقاومت افغانستان را دعوت نموده تابرای مذاکره درمورد اسرای جنگی اتحاد شوروی واوضاع افغانستان به روسیه سفر نمایند ... نطاق وزارت خارجه اتحاد شوروی گفت: مامورین شوروی می خواهند درمورد سرنوشت بیش از ۳۰۰ عسکر شوروی که درجنگ مفقود الاثر قلمداد شده اند ، مذاکره نمایند» .

همچنان طی مذاکراتی که قبلاً بین هیأت وزارت خارجه روسیه وهیأتی مجاهدین درکاخ وزارت خارجه پاکستان دراسلام اباد صورت گرفت ، هیات روسی نه تنها برموجودیت نجیب و حزبش در نظام اینده افغانستان پافشاری می نمودند بلکه بازیرکی کامل خویش می خواستند موضوع اصلی مذاکره را موضوع اسرای جنگی روسیه نشان دهد ، نه موضوع حل وفصل قضیه افغانستان.

چنانچه «کوزیروف »معاون وزارت خارجه روسیه ورئیس هیات روسی درمذاکرات اسلام اباد بعد از بازگشتش به مسکو طی مصاحبه بااژانس "نوووستی" روسیه چنان افاده کرد که گویا بحث با مجاهدین بیشتر درموضوع اسرای جنگی روسی بوده است .

بعد از غور ودقت روی موضوعات فوق الذکر این سوال به صورت جدی مطرح می شود که دریك چنین حالتی رفتن هیاتی ازمجاهدین به این همه بزرگی اش به روسیه چه پیامدی با خود خواهد داشت؟

این واقعیت بجای خودش درست است که دوجانب اصلی ودرگیردرقضیه افغانستان مجاهدین وروسیه بشما می روند ولی درحالی که می بینیم حکومت روسیه از کمك به رژیم مزدور نجیب دست بردارنیست ، بافراهم نمودن جدید ترین انواع اسلحه کشنده به رژیم منفور ومزدور ، روزانه باعث قتل صدهاتن ازهموطنان بی گناه ومظلوم مان می گردد رفتن هیات مجاهدین به روسیه چه معنی دارد ؟

می شود درصورت ضرورت به این مذاکرات دریك کشور سومی همچوپاکستان عربستان سعودی ویا کشور دیگری برگزار گردد چنانچه سالهای گذشته ماشاهد چندین دور ازاین چنین مذاکرات دراسلام اباد وطایف بوده ایم .

انطوریکه یکتن از رهبران جهادی مخالف این سفر اظهار نموده بود گمان غالب براین است که مقامات دولتی روسیه با خاصیت شوم استعماری خویش که دارند ، بادعوت دادن به هیات مجاهدین برای مذاکرات درمسکو می خواهند طوری نشان دهند که گویا انها جانب درگیر قضیه نیستند بلکه می کوشند به حیث یك مصلح ومیانجگر بین رژیم نجیب وجانب مقابل انها (مجاهدین) راه حلی برای قضیه افغانستان جستجو نمایند !

اگر حکومت روسیه واقعاً خواهان حل وفصل تنازعه افغانستان است واگر ارزو دارد با نظامی که دراینده انشاالله بانیروی پرتوان مجاهدین درافغانستان عزیززمام امور رابدست می گیرد ، روابط نیك همسایگی وحسن همجواری را داشته باشد راه سهل واسان اینست تاازکمك وحمایه رژیم مزدور نجیب وحزب مزدورش دست بردارد ، بجای مفاهمه ومذاکره با امریکا وکشورهای دیگر دراین مورد ، مستقیماً با مجاهدین درتماس گردیده ودرزمینه حل مشکلات به مفاهمه وموافقه بپردازد.

اینك بااین همه مضراتش اگر عده ازرهبران محترم جها دی مان تنها به خوشی ازاینکه «یلتسین» بااستفاده از چند لقب «دیپلوماتیك» ایشان را به روسیه دعوت نموده است !! یاتحت فشار ممالك دیگرتن به این گونه سفردرمی دهند به نظرما نه تنها هیچ گونه مفادی از ان به ملت مجاهد وغرقه درخون ما متصورنیست بلکه مترادف بااهانت به جهاد اسلامی وحیثیت مجاهدین خفته درسنگرهای مبارزه اسلامی نیزتلقی می گردد.

ترسم که نرسي بـه کعبه اي اعرابي
زين ره که توميروي به ترکستان است

دکابل حکومت ته یوازي ...

خاطر عسکر او ملیشان راوړی او چی کله جګړه نه وی ، بیاخپل قونونه کموی .

پوښتنه : هغو نظامی او ولسی خلکو چی دمجاهدینو دعفوی له مخی مجاهدینو ته پناه راوړی دمجاهدینو له خوا ورته څه پروګرام نیول شوی او که نه ؟

ځواب: دهغو نظامی او ولسی خلکو دپاره چی مجاهدینو ته پناه راوړی ، په دی برخه کی مجاهدینو او خیریه ټولنود او اولیه کومکونو پروګرام نیولی دی چی ددی خبری ښه مثال دخوست دفتحی په جګړه کی ورکولی شو، ځکه کله چی موږ دخیریه ټولنو څخه دکومك غوښتنه وکړه چی دجګړی په جریان کی ډیری کورنی مهاجرکیږی ، نو دهغوی باور نه کیده ، خو کله چی هغوی دخلکو بهیر ولید ، دستی یی خپلی مرستی جاری کړی او اوس خیریه ټولنی په دی برخه کی پوره معلومات لری .

پوښتنه : مجددی صاحب د بی بی سی راډیو سره په مرکه کی وویل چی پر ګردیز باندی مجاهدینو عملیات نه دی پیل کړی بلکه دکابل دحکومت له خوا د مجاهدینو په مرکزونو او دولسی خلکو په کورونو دتوپونو ډزی او بمباری کیږی چی داکار به دسولی په پروسه بد تاثیر واچوی ؟

ځواب : دخوست دفتحی وروسته مجاهدینو پرګردیز دحملی دپاره دتیاری نیولو په خاطر لاری جوړولو ، اکمالاتو کولو او مورچی جوړولو او نورو دارتیا وړ شیانو په برابرولو ، اخته وو ، چی اوس یی دتیاری دنیولو څخه وروسته پر ګردیز حمله پیل کړیده ، پاتی شوه د حضرت صاحب خبره دغه بمبارد چی دکابل حکومت له خوا په دی ورځوکی د ګردیز په شاوخوا کی شوی دی ددی څخه دمخه څوځوواره زیات بمباری شوی دی . بله داچی حضرت صاحب ویلی چی موږ ارتباط نیولی او هم یی دپاکستان څخه غوښتی دی چی دجګړی مخه ونیول شی . داخبره هم ټیك نه ده ځکه موږ پر ګردیز حمله پیل کړی ده او دکابل حکومت قواوو ته یوازی دتسلیمیدو چانس دی او بس. بل داچی جګړه موږ په خپله خوښه پیل کړی او دا جګړی به ترهغی دوام لری تر څو دکابل ملحد او مرتد حکومت دمنځه لاړ شی او پرځای یی یو اسلامی حکومت جوړ شی .

پوښتنه : محترم مولوی صاجب په دی حساسو شیبو کی دسنګر مجاهدینو ته څه پیغام لری ؟

ځواب : زما غوښتنه دمجاهدینو څخه داده چی په خپلو منځوکی یوالی او وحدت ټینګ وساتی ځکه وحدت دکامیابی لار ده.
لکه چی الله (ج) اودهغه رسول (ص) فرمایلی دی مجاهدین باید لاندی ټکی په نظر ولری ترڅو دخدای (ج) درضا سبب وګرځی هغه ټکی دادی:
١- په سنګر کی مجاهدینو ته دتکلیف رسیدو سره سره ثبات .
٢- دخدای (ج) ذکر کول
٣- دآمرینو اطاعت کول
٤- دالله (ج) څخه ویره کول نه دخلکو نه
دپورتنیو شرطونو پوره کولو سره به الله (ج) دمجاهدینو پوره بری په برخه کړی .

مجاهدین عفو عمومی به افراد وابسته به رژیم کمونست کابل را یکبار دیگرتکرار کردند

پشاور ، میدیا :

بادرنظر داشت شرایط موجود در جهاد افغانستان ووضع اشفته حال رژیم منفور کابل ،رهبران مجاهدین روز دوم میزان طی نشستی عفوعمومی را بغرض رهانیدن وابستگان رژیم ازحالت بن بست حاضر یکبار دیگر تجدید نمودند .

دراعلان عفو از تمام منسوبین قوای مسلح څارندوی ، ملیشه مامورین عالیرتبه ، گردانندگان سازمانهای حزبی وسایر افراد وابسته به رژیم ملحد کابل خواسته شده است تاهرچه زودتر به نزدیکترین مراکز مجاهدین مراجعه وازمزایای عفو عمومی مستفید گردند.

اطلاع حاکیست به مراکز وقرارگاه های مجاهدین نیز رهنمود های صادر واکیداً هدایت داده شده است تا مسوولیت حفظ جان ، مال ونوامیس انعده افراد رژیم راکه تسلیم میشوند به عهده گرفته وبه مراجعین درزمینه اطمینان دهند .

اعلامیه عفوعمومی مجاهدین خاطر نشان می کند ، درصورت عدم تسلیم شدن افراد هرگاه عملیات مجاهدین اغاز وصدمه به انها وارد اید مسوولیت برعهده خود انان خواهدبود

دوام جهاد علیه رژیم کابل جایز است

پشاور ، میډیا :

بگزارش خبرنگار میدیا درجلسه کمسیون متحده علمای ایالت سرحدی پاکستان در دارالعلوم عربیه راحت اباد روز اول میزان بدوام جهاد علیه رژیم کمونست کابل تاسقوط واقامه حکومت الهی درافغانستان تاکید بعمل امد .

طبق گزارش علمای مذکور هرکدام طی بیانات شان حکومت کمونست کابل راکه از تحولات سریع در روسیه ونابودی کمونیزم درانجا عبرت نگرفته ، برفلسفه الحادی اصرار دارد ، محکوم کرده ، دوام جهاد علیه انها را تارسیدن به پیروزی نهایی واجب دانستند.

درجلسه ازاینکه افراد رژیم کابل با ملوث ساختن اوراق کتاب مقدس اسمانی وزیر پا کردن ان به این کتاب شدیداً توهین کرده لهذابه دوام جهاد فتوا صادر گردید.

درجلسه علما همچنان برنقش شورای قوماندانان منحیث یك ارگان با قدرت جهادی در هرنوع تصمیم گیری برای اینده افغانستان تاکید بعمل امده است .

درجلسه از تنظیم های جهادی خواسته شده تا با ایجاد اتحاد بیشتر درصفوف شان پیروزی را نزدیکتر ساخته اما نسبت به دسایس دشمنان که میخواهند از تشکیل حکومت اسلامی بدست مجاهدین جلوگیری نمایند هوشیارباشند.

فلسطینیان به دمنځنی ختیځ دسولی په جرګه کی برخه واخلی

دفلسطین دری سوه دیارلس کسیزه ملی شورا له پنځو ورځو خبروو وروسته دهغه کنفرانس دجوړیدو په ګټه رایه ورکړه چی دمنځنی ختیځ دسولی لپاره دامریکی ترمشر ی لاندی جوړیږی .
دخپروشویو خبرونو له مخی په هغه پریکړه لیك کی چی دغونډی په پای کی خپور شو فلسطینیانو لخوا دسولی دکنفرانس دجوړیدو په اړوند کوم مخکنی شرط ندی ایښودل شوی خو دفلسطین دخپلواکی او خود ارادیت په برخه کی دفلسطینیانو تشویش ته په ډاګه اشاره شویده همدارنګه په پریکړه لیك کی دسولی په بدله کی فلسطینیانوته دملګرو ملتو دامنیت شورا د ٢٤٢ او ٣٣٨ لمبر پریکړه لیکونو په بنیاد داسرائیلو له خوا دنیول شویو سیمو پریښودل غوښتل شویدی .
په پریکړه لیك کی له امریکا څخه غوښتنه شوی چی فلسطین دیو خپلواك دولت دجوړیدو په ګډون دفلسطینیانو ټول حقوق په نظر کی ونیول شی.

دشورای نظارغږی قوماندان مولوی شمس الرحمن په یوه مطبوعاتی مرکه کی وویل:

دشمالی ولایتونو دتجزیی داوازو هدف دمجاهدینو بدنامول دی

پیښور ،دجهاد هنداری خبریال :

دتخار ولایت یوه تکړه قوماندان اودجمعیت دشورای نظار غړی مولوی شمس الرحمن دخبریالانو یوی غونډی ته په وینا کی وویل : مجاهدین به ترهغی دکابل په ګوډاکی رژیم باندی خپلو بریدونو ته دوام ورکوی ترڅو کمونستی رژیم ړنګ اوپه ځای یی دمجاهدینو په لاس یو اسلامی حکومت جوړشوی نه وی .

مولوی شمس الرحمن چی دوی ورځی مخکی دتخار ولایت نه پیښور ته راغلی دمیزان په ۳ مه نیټه یی دخبریالانو یوی غونډی ته په خبرو کی چی دقوماندانانو شورا په سیاسی دفتر کی جوړه شوی وه زیاته کړه : موږ دجنګ طرفدار نه یو اوداد ورکوو چی درژیم دړنګیدو سره به زموږ په هیواد کی سوله اعاده شی .

ده په خپلو خبرو کی وویل : دهیواد په شمال کی دافغانستان داحتمالی تجزیی اوازی دخاد کاردی اوهدف یی زموږ په هیواد کی دمجاهدینو بدنامول دی .

نوموړی دمجاهدینو ترمنځ دوحدت په هکله وویل چی دهیواد دشمال په ۱۳ ولایتونو کی دجمعیت اسلامی اوحزب اسلامی ترمنځ اختلافاتو له منځه تللی اوواقعی اتحاد راغلی دی .

دکابل مزدور رژیم وروستی . . .

کابل کې د«واد » په واسطه سره جوړشوي سازمانو نو او ګوندونو ته دبرخې ورکولو سره موافقه لري دادې مفهوم ته ورته تعبیریدآشي چې دوی کمونستان مني خو مارکس او لینین نه مني . اصل مطلب دادی چې روسان په راتلونکي کې نه یوازې داچې دنجیب له څیرې څخه تیریږي بلکې دخلقیانو او پرچمیانو په څیروسره هم په افغانستان کې دخپل نفوذ او قدرت څخه تیریږي.
دوی به خلقیان او پرچمیان دخپلو طرفدارانو په ټول دافغانستان ولس څخه پټ نکړي ځکه روسان نه غواړي چه راتلونکي کې دهغو سازمانونو او اشخاصوله لارې خپل نفوذ او تسلط ته ادامه ورکړي کوم چې دروس په طرفد ارانو افشاء شوي دي.روسان په نظرکې لري چې خپلو هغو اعتمادي اجنټانو ته چې تراوسه پورې نه دي افشا شوي داسې سازمان ورکړي او هغه ټول فعالیتونو ته یې وګماري چې په راتلونکي کې خلقیانو او پرچمیانوته ورته دخپلوګټوڅخه قربان کړي.روسان له یوې خوا هڅه کوي چې دافغانستان څخه بهر داسې ګوندونه او سیاسي سازمانونه جوړکړي چې ظاهراً دروسانو او دکابل مزدور رژیم سره مخالفت ولري اماپه راتلونکي کې دروسانو ګټې تأمین کړای شي. ددې په څنګ کې دروسانو او کابل مزدوررژیم ضد ګوندونو او سازمانو نو ته خپل اجنټان دمختلفو لارو څخه ورداخل کړي تر څو دامکان په صورت کې دهغوی روسي ضد لورې او کړووړو ته تغیر ورکړي .څوکه چیرې روسان په لمړي صورت کې بریالي نه شول ، داخیري مطلب په اړوند دزیاتوامکاناتو څخه برخوردار دي. نودروسانو او دکابل مزدور رژیم له خوا دراتلونکي احتمالي ائتلافي دولت وړاندیز ونه دتیرواسلامي،ملي او ولسي ضد کړووړوڅخه توبه نده بلکې یوه نوي او خطرناکه دسیسه ده ځکه خود ټولو جهادي تنظیمونو او دافغانستان دټولو مؤمنووګړوایماني وظیفه ده ترڅو دروسانو او دافغانستان داسلامي خاورې نوروټول ټول دښمنانو غولوونکي څیرې او نیرنګونه افشاء او دهغوی دمخنیوي او نابودولو پخاطردهیڅ ټول قربانۍ څخه دریغ ونکړي.

دجهاد په سیاسي ډګر کې ...

دجهاد په سیاسی ډګر کی دغی رامنځته شوی وضعی، ګردجنی اومأیوسه کوونکی فضا په ځرګنده توګه له یوی خوادهیواد په مرکز اولویو ښارونو کی دروسانو دمزدور رژیم دنسبی پایښت شپی او ورځی تسردی وخته راوږدی کړی اوله بلی خوایی دجهادی ځواکونو ترمنځ واټن له یوی ورځی نه بلی ته لاپسی زیات کړاوهمدغه په تدریج سره په سیاسی ډګر کی دبیلو بیلوصفونو اوجلا جلا دریځونوپه رامنځ ته کیدو منتج شوه اوبالاخره خبره دی ته ورسیده ، چی اوس یی دملیونو شهیدانو ، معیوبینو دوینواو بیدریغه قربانیو په بدل کی دګټلی جنګ دبایلنی ویره هم رامنځ ته کړی ده.

زموږ مجاهد ملت دجهاد په تیرو څه دپاسه دیارلسو کلونو کی څرګنله دجهادی ځواکونو اوقیادتونو دځوګونو اتحادونو ، ائتلافونو اوعبوری حکومتونو دجوړیدو اوبیرته ړنګیدو صحنی ولیدلی ، په بیلابیلوبهودرامنځته شویواتحادونو اوبیااختلافونو ترخه اوخواږه خوندونه یی وڅکل .

زموږ مؤمنو وګړو دجهاد له پیل څخه تراوسه پوری په پوځی ډګر کی ډیرڅه ترلاسه کړل ، دروس په څیر ستر طاغوتی ځواك یی دخدای (ج) په مرسته اوددوی دمیړانی اوسرښندنو په برکت مات اوله هیواده په تیښته ووت ، دهیواد په سلو کی له نوی څخه زیاته برخه یی دالحاد اوفساد له منګولو څخه خلاصه کړه ، په تش لاس ، خودایمان په وسله یی داسی ستری ستری فتحی په برخه شوی ، چی نړۍ ورته ګوته په غاښ شوه ، خو دسیاست په ډګر کی دیو واحد سیاسی قیادت اورهبری دنشتوالی له امله ډیر پاتی راغلو اودنظامی ډګر ستری بریاوی یی هم تر اغیزی لاندی راوستی.

پکار خوداوه چی دجهاد له پیل څخه دنظامی ډګر سره هماهنګ اومتوازن زموږ دجهاد سیاسی ډګر هم هغسی پیاوړی شوی او ځواکمن شوای وای او په نړیواله سطحه یی زموږمجاهد ملت سمه سیاسی نمایندګی کړی او زموږ دمظلوم اومجاهد ملت غږیی هغسی چی لازم وو دنړیوالو غوږونو ته رسولی وای ، اودنړیوالو ذهنیت یی دالحاد ، فساد په وړاندی زموږ دبرحقی جګړی او مبارزی په اړوند ښه روښانه کړی وای ، خو داټول کارونه هغه وخت کیدای شول ، چی موږ یو واحد قیادت اوسیاسی رهبری درلودای ، مګر له بده مرغه چی داستونزه دجهاد دپیلامی اوادامی په بهیر کی تراوسه زموږ مله ده ، اوپه دغه زمانی واټن کی پرته له دی چی دجهادی ځواکونو دمتحد کیدو اویو ځواك کیدو په لوړ درانه اوپاخه ګامونه واخیستل شی ، برعکس دبیلابیلو عواملو له مخی دیوه تنظیم نه دڅو تنظیمونو درامنځ کیدو لړی پیل اوتراوسه دوام لری ، له یوی ورځی نه بلی ته صفونو نظرونه اودریځونه جلا کیږی اواوس خو یی ترمنځ دومره واټن پیداشوی چی له منځه وړل یی له ستونزو اوکړاوه ډك کاربریښی .

هرکله چی په نړیواله سطحه په کومه غونډه اوکنفرانس کی دمجاهدینو داستازی ګډون ته اړتیا پیښه شوی اوکه دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په عنوانولوکومه طرحه او پیشنهاد رامخی ته شوی ، سره ددی چی ټول مجاهد ملت ته یی یو ډول ضرر اوګټه متوجه ده لومړی خودجهادی قیادتونو ترمنځ هلته داستازیو دلیږلو یانه لیږلو دطرحی دمنلو یا نه منلو په اړه سرخوږونکی بحثونه اوخبری اتری روانی وی ، چی په نتیجه کی یی یا هیڅ استازی ونه لیږل شی ،اویاکه دیو تن دورتللو ضرورت وی پر ځای داوو یا تردی هم زیات استازی ورشی ، اوپرته له دی چی طرحی او وړاندیز ته له یوی مرجع اوسیاسی موضع نه دمننی یارد ځواب ورکړل شی ، بیل بیل نظرونه اودځانګړو دریځونو مسئله رامخی ته شی.

چی ډیری ښی بیلګی یی په دی اوسنی وخت کی دملګرو ملتونو عمومی غونډی اومسکو ته دمجاهدنو دهیئت دورتللو مسئله ده ، چی نظرونه اودریځونه پکی مختلف دی ، خوکه په ځانګړی توګه په هغه اودغه بڼه ملحوظات اوغوښتنی،سیاسی مصلحتونه او سازشونه په پام کی ونه نیول شی او زموږ دمجاهد ملت غوښتنی او داسلامی انقلاب سترآرمان ته پر هرڅه ترجیح ورکړای شی ، اویوازی او یوازی دالهی شرعی احکامو په رڼا کی دپیښنو اوقضایاؤپه وړاندی برخورد وشی اوله دغی لاری ګټی اوزیانونه له یوی مخی وسنجول شی اوقضاوت پری وشی زموږ هره ستونزه پری حل کیدای شی .

په دی حساسو شیبو کی چی زموږ اسلامی انقلاب دیری په درشل کی په سرنوشت ټاکوونکی پړاو کی دی دبیلابیلو سیاسی دریځونو اونظرونو شتوالی له سخت ګواښ اوخطر سره مخامخ اوپه سیاسی ډګر کی یوه ستره خلااونیمګړتیاورپه برخه کړی ده ، له جهادی مشرانو ،علماؤ،دجهاد دسنګرونو اتلانوڅخه زموږ دمجاهد ملت غوښتنه او دحالاتو تقاضا داده چی له خپل منځ څخه دیوواحد سیاسی قیادت په رامنځ ته کولو سره دغه ستره نیمګړتیا پوره او زموږ اسلامی انقلاب خپل سرمنزل ته ورسوی.

ومن الله التوفیق

په پغمان کی درژیم (۱۱)پوستی فتحه شوی

پغمان دسنبلی ۲۹مه :

په پیښور کی دقوماندانانو دشوری سیاسی دفتر دپغمان له ولسوالی نه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو په ګډه دسنبلی په ۲۸ مه او ۲۹ مه نیټه په دغه ولسوالی کی د دره زرګر ، بیك توت ، قلعه حکیم ، سنګ شاوه عروس او دباغ داؤد سیمو پر پوستو او قرارګاو ددرندواو سپکو وسلو څخه په استفاده سره یو لړ بریالی عملیات ترسره کړل چی دهغی په نتیجه کی دملحد رژیم (۱۱) پوستی فتحه (٤۱) تنه عسکر او صاحب منصبان مړه ، یوشمیر ټپیان او پاتی یی تښتیدلی دی.

رپوټ وایی چی مجاهدینو پدی جګړه کی درژیم له قواؤ څخه په لس هاوپوځی نقلیه وسایل له منځه وړی او په کافی اندازه وسلی ، مهمات او لوژستیکی مواد یی ولجه کړیدی .

په ګردیز کي درژیم دقواوو خواداوربند وړاندیز

پکتیا ، جهاد هنداره :

دپکتیا ولایت دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دجبهاتو دعمومي قوماندانۍ څخه دجهاد هنداري استول شوي خبریال خبرراکوي چي په ګردیز کي میشته دمزدور رژیم قواوو ، مجاهدینو ته داوربند وړاندیز کړي دي .

زموږ خبریال زیاتوي دغه وړاندیز په ګردیز کي درژیم دقواوو دعمومي قوماندان جنرال احسان الله رفیقي له خوا دیوه لیك په ترځ کي الحاج حقاني ته وړاندي شوي دی .

الحاج مولانا حقاني دمزدور رژیم ددغه جنرال په ځواب کي له هغوي څخه غوښتنه کړي ترڅو له موقع څخه په استفادي سره زر ترزره وسله په ځمکه کیږدي ، اومجاهدینو ته دي ځانونه تسلیم کړي .

دیادوني وړده چي پرګردیز باندي دمجاهدینو مقدماتي عملیات ددرنو وسلو دډزو په شکل دڅه مودي راپه دي خوا پیل شوي دي .

تر ۲۰۰۰ ام میلادی کال پوری به ۳۰ ملیونه انسانان دایډز په منګولو کی کیوزی

دنړی د روغتیایی اداری دیوه خپاره شوی رپوټ په اساس ویل شوی چی تر ۲۰۰۰ ام میلادی کال یعنی په راتلونکو ۹ کلونو کی به له ۲۵ ملیونه څخه تر ۳۰ ملیونه انسانان دایډز په وژونکی ناروغی اخته شی .

دغه اداری په خپل رپوټ کی څرګنده کړی ده چی اوس دنړۍ د ۸۰ لکو څخه تر ۱۰ ملیونه پوری انسانان پدی مرض اخته دی ، چی زیاته برخه یی په وروسته پاتی هیوادو کی ده .

دیادونی وړده چی ددی مریضۍ دانتقال عامل جنسی بی لاری ده .

ویل شوی چی دری سوه اوپنځوس (۳۵۰) زره انسانان ددی پلیت مرض په اثر مړه شوی دی .

ایالات متحده پنجصد راکت ذروی راازصحنه خارج می کند

ایالات متحده تقریباً پنجصد راکت ذروی ستراتیژیك وطیارات بم افگن دوربرد راکه قریب چل سال در حالت آماده باش بود از صحنه خارج می سازد این موضوع بعد از آن اعلان گردید که رئیس جمهور امریکا کاهش سلاهای اتومی را اززرادخانهای انکشور اعلام نمود .

کاهش مذکور بخاطر تحقق اعلام رئیس جمهور وکاهش دراسلحه ذروی امریکامیباشد بش دستور داده است بیشتر از دوهزارو یکصد بطریه توپچی ذروی وراکت های برد کوتاه که به تعداد یکهزار وهفتصد عدد آن دراروپا مستقراند برچیده شوند.

کاهش مذکور در زراد خانه بسیار عظیم امریکا،بخش بسیار بسیار اندك را تشکیل داده وهنوز حجم بسیار زیاد آن بخاطر کاربرد علیه انسانها محفوظ میباشد .

اسلام باید در آذربایجان مذهب رسمی گردد

یك شورای مذهبی جمهوریت آذربایجان آسیای میانه از محکمه عالی این جمهوریت تقاضا نموده تا اسلام را بحیث مذهب رسمی آن جمهوریت اعلان نماید .

این شورا همچنان تقاضا نموده تا با درنظرداشت نظریات علمای مذهبی این جمهوریت وزارت امور مذهبی تشکیل گردد وزمین های مساجدی که حکومت روسیه انرا غصب نموده بود ، دوباره به مسلمانان ان جمهوریت برگردانده شود .

دهیت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاؤن پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»

دهیواد په تودومورچلو کی

لغمان :

«میډیا» له لغمان څخه رپوټ ورکوی چی مجاهدینو دسنبلی په ۲۸ مه د « دشت پاچا خیل » پرپوستو بریالی عملیات وکړل چی د رژیم ۱۳ تنه عسکر او ملیشه یی وژلی ، او یو عراده ټانك یی سوځولی دی . ددی جګړی په دوران کی درژیم (۱۵) تنه ملیشه دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی.

بغلان :

له بغلان څخه د «میډیا» درپوټ په اساس ویل شوی چی مجاهدینو دسنبلی په ۲۹ مه او ۳۰ مه دبغلان دزاړه ښار پرپوستو او پوځی مرکزونو برید وکړ چی درژیم (١٤) تنه یی مړه او (۲۱) تنه پکی ټپیان شول او ددښمن یو عراده زغروال ټانك داور لمبه شو .

درژیم قواوو دانتقام داخیستلو په غرض سیمه ترهوایی او زمینی بریدونو لاندی نیولی ده .

هلمند :

په کویټه کی دمیډیا نمایندګی رپوټ ورکړی چی دهلمند ولایت مجاهدینو د میزان په دوهمه نیټه دګرشګ ولسوالی د«یخچال» دسیمی پرپوستو برید وکړ ، ددښمن یوه پوسته یی ویجاړه ، او اوه عرادۍ ټانکونه یی وسوځول . رپوټ دجګړی ددوام خبر هم ورکړی .

غور :

دغور له ولایت څخه دمیډیا درپوټ له مخی ویل کیږی چی مجاهدینو دمیزان په لومړی نیټه دشهرك ولسوالی دشاوخوا پرامنیتی پوستو یولړ بریالی عملیات وکړل ، چی درژیم یو پوځی مرکز ویجاړ (۷) تنه عسکر او ملیشه وژل شوی او یو شمیر نور ټپیان شوی دی.

هرات :

میډیا دهرات ولایت څخه دقوماندان تورن اسماعیل خان درپوټ په اساس خبر ورکوی چی دسنبلی په ۲۹ مه نیټه دهرات ،کندهار دلویی لاری په سرد یوه کمین په ترځ کی دسرخیګل په سمیه کی درژیم یوه پوځی لاری دیوه تن عسکر سره نیولی ده . همداراز دزنده جان په ولسوالۍ کی دمجاهدینو دماینونو دچاودیدولهامله یو عراده ټانك او یوه پوځی لار ی سوزیدلی،(٤) تنه عسکر او ملیشه مړه او یو شمیر نور ټپیان شول .

کابل :

به اساس گذارش میدیا مجاهدین ولسوالی شکردره ولایت کابل طی حمله اسلحه ثقیله برُیك قرارگاه نظامی درمنطقه کاریز میر ، که در نتیجه یك پوسته دشمن بنام «دلسوز» فتح (۳۵) تن از افراد رژیم هلاك و (۱۳) تن دیگر مجروح شدند.مجاهدین طی این عملیات ۳ عراده تانك ، دوعراده موتر لاری نظامی و (۱۵) میل اسلحه مختلف النوع را همراه بامقداری مهمات به غنیمت گرفتند.

لوگر :

اداره خبررسانی میدیا از لوگر گزارش می دهد که طیارات جنگی دشمن روز ۲۸ سنبله با بمباردمان وحشیانه خویش برمربوطات ولسوالی « بره کی برك » برراه های عامه ومحل رهایشی اهالی قریه جات باعث از بین رفتن ۳عراده وسیله نقلیه مردم عامه ویك تراکتورمجاهدین گردیده اند.

غزني :

له غزنی څخه دمیډیا درپوټ په اساس ویل شوی چی مجاهدینودسنبلی په ۲۹ مه نیټه د«پتك» او «سوګی» پرپوستو برید وکړ ، چی ددښمن دوه پوځی ځالی له منځه لاړی او یو شمیر افراد یی ووژل شول.

کابل :

دکابل ولایت دشکر دری ولسوالی څخه د«میډیا» دیوه پل رپوټ په اساس ویل شوی چی مجاهدینو د«کوه شمال» پرپوستو برید وکړ چی ددښمن یوه پوسته ویجاړه یو شمیر عسکر او ملیشه مړه او (۱۸) تنه ژوندی ونیول شول.

رپوټ وایی مجاهدینو پدی جګړه کی یومیل راکټ یومیل زیګویو (۲۰) میله کلاشینکوفونه (۹) دمخابری دستګاوی دیومقدار مهماتو سره په ولجه نیولی .

جوزجان :

بگزارش یك منبع جهادی از ولایت جوزجان متصل به دریای امو درشمال افغانستان (۱۲۰) تن ازملیشه رژیم کابل به سرکردگی محمد ظاهر قوماندان آنان درمربوطات شهر شبرغان مرکز ولایت جوزجان بتاریخ ۳۱ سنبله به مجاهدین آن ولایت تسلیم گردیده اند ، این سلسله تسلیمی ملیشه ها درنقاط مختلف کشور ادامه دارد .